۱۶/ شوال المکرم /۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۱۴ / حمل/۱۴۰۵هـ، ش

# د انټرنېټ او ټولنيزو رسنيو صحيح استعمال ، او د ناوړه استعمال يې خطرناکې پايلې

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

إنَّ الحمدَ لله، نحمدهُ ونستعينهُ ونستغفره، ونعوذُ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده اللهُ فلا مضل له، ومن يُضلِل فلا هادي له، وأشهدُ أن لا إله إلا الله وحدهُ لا شريك له، وأشهدُ أنَّ محمداً عبدهُ ورسوله صلى الله عليه وعلى آله وصحبه أجمعين. أما بعد:

قال الله سبحانه وتعالى: (وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً وَيَخْلُقُ مَا لاَ تَعْلَمُونَ).النحل:(۸)

**درنو حاضرينو او محترمو اوريدونکو!**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.**

زما ددين او اسلام وروڼو! . په پخوانيو زمانو کې به خلکو د لرې واټنونو څخه معلومات يو له بل سره د خط، ليک او يا د استازي له لارې شريکول، خو نن چې د علمي پرمختګ او تکنالوژۍ زمانه ده، خلک معلومات يو له بل سره د انټرنيټ او ټولنيزو رسنيو ، لکه واټ ساپ، ټويټر، مسنجر، تليګرام او نورو انټرنټي وسائلو له لارې شريکوي.

دغه علمي پرمختګ ته په پورتني مبارک آيت کې اشاره شوې ده، چې الله تعالی پيداکوي ( په اينده کې) هغه څه چې تاسو ور باندې نه پوهيږی.

همدا راز مخکې به خلکو ددين خدمت يواځې ددرس او تدريس ، د کتابونو او رسائلو د ليکلو په وسيله کولو، خو اوس د تکنالوژۍ په دور کې داسلامي دعوت او خدمت لپاره انټرنيټ او نورو ټولنيزو رسنيو له لارې هم ممکن شوي دي.

د اسلام مبارک دين له نظره انټرنيټ او ټولنيزې رسنيو (فيسبوک، ټويټر، ټيک ټاک، مسنجر، واټ ساپ...) ته لکه د نورو جديدو وسائلو په نظر ګوري او هره وسيله ايجابيات لري کله چې په صحيح توګه استعمال شي او سلبيات هم لري کله چې په ناوړه توګه استعمال شي.

ټولنيزې رسنۍ د لومړي ځل لپاره امريکايانو د نظامي او استخباراتي اهدافو لپاره رامنځ ته کړل ، مګر د وخت په تيريدو سره دغه وسائلو پرمختګ وکړ او عام بازار ته د عامو خلکو د استعمال لپاره وړاندې شول، چې اوس د مختلفو موخو لپاره استعماليږي.

**الف: د انټرنېټ او ټولنیزو رسنیو د صحیح استعمال ګټې:**

انټرنېټ او ټولنیزو رسنۍ که چیرې په صحیح توګه استعمال شي، نو ګټې او فائدې لري، چې ځینې ګټې یې په لاندې توګه دي:

په موجوده دور کې تاجران د نړۍ د ګوټ ګوټ څخه خپل هیواد ته مالونه واردوي او د خپل هیواد څخه د نړۍ نورو هیوادونو ته تجارتي توکي صادروي، چې په دې کار کې انټرنیټي خدماتو ته ضرورت پیښیږي او تاجران د انټرنېټ او ټولنیزې رسنیو څخه په تجارت کې استفاده کوي او د انټرنیټي خدماتو او تسهیلاتو څخه ګټه اخلي.

همداراز عام خلک او تاجران د یو هیواد څخه نورو هیوادونو ته پیسې حواله کوي او د پیسو حواله جات د هیوادونو ترمنځ تبادله کیږي، چې په دې ټولو کارونو او فعالیتونو کې انټرنیټ او ټولنیزې رسنۍ رغنده رول لوبوي او په موجوده وخت کې دا کارونه د انټرنیټ او ټولنیزو رسنیو په مټ اجراء کیږي.

همدارنګه خپل او خپلوان ، دوستان د هیواد په داخل کې او د نړۍ د لرې پرتو هیوادونو او ښارونو څخه د انټرنیټ او ټولنیزو رسنیو له لارې یو د بل سره وصل کیږي او یو د بل له حال احوال څخه خبریږي . خلک د تماس له لارې او یا د ویډیو ګانو له لارې یو له بل سره خبرې کوي او خپل ضروري او اړین پیغامونه یو بل ته رسوي.

همدارنګه په غیر اسلامي هیوادونو کې میشت مسلمانان په انټرنیټ او ټولنیزو صفحاتو کې لکه ګوګل، یاهو او داسې نورو صفحاتو کې دیني معلومات لټوي او خپل مشکلات حل کوي .

لیکوالان او د تجربوي او ساینسي علومو څیړونکي د انټرنیټ له لارې د نړۍ کتابخانو ته لاس رسۍ پیدا کوي او په انټرنیټي صفحاتو کې د پرتو کتابونو ، تحقیقاتي څیړنو او علمي موادو څخه استفاده کوي او ګټه ور څخه اخلي.

دانټرنیټ او ټولنیزو رسنیو له لارې آن لائن درسونه او سبقونه مخ په وړاندې بوتلل کیږي او ځینې پوهنتونونه شته چې په هغې کې زده کړې په آن لاین ډول لوستل کیږي او امتحانات هم په آن لاین ډول اخیستل کیږي.

په غیر اسلامي هیوادونو کې میشت مسلمانان خپلو بچو ته په آن لاین ډول ددیني او د قرآن کریم سبقونو ترتیبات برابروي.

همدا راز ځینې وخت د ضرورت پر وخت حکومتي چارې او اداري کړنې هم د انټرنیټ او ټولنیزو رسنیو له لارې تعقیبدلای شي.

د حق د لارې دعوتګر اسلامي دعوت ، د اسلامي احکاماتو او د اسلامي ارزښتونو په اړه معلومات د انټرنیټ او ټولنیزو رسنیو له لارې خپروي.

همدارنګه په صحي برخه کې بین المللي او ساحوي صحي او وقایوي مؤسسات خپل پیغامونه ، لارښوونې او خبرتیاوې د انټرنیټ له لارې ولس ته رسوي او هغوی ته لازمي لارښوونې کوي.

**ب: د انټرنیټ او ټولنیزو رسنیو د ناوړه استعمال یې خطرناکې پایلې:**

که څه هم انټرنیټ او ټولنیزې رسنۍ یو څه ایجابیات او مثبت اړخونه لري ، خو که په صحیح توګه استعمال نشي ، نو ډیرې خطرناکې فردي او ټولنیزې پایلې لري ، چې نن سبا د انټرنیټ او ټولنیزو رسنیو د ناوړه اغیزو څخه څوک مصئون نه دی.

انټرنیټ او ټولنیزې رسنۍ وسائل دي چې د دوه مخيزې سلاح حیثیت لري، که چیرې په صحیح توګه استعمال شي ،نو

ګټه لري ، خو که چیرې دغه وسائل( انټرنیټ او ټولنیزو رسنۍ) په ناوړه توګه استعمال شي، نو ډیری خطرناکې پایلې لري ، چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

**۱-انټرنیټ او ټولنیزې رسنۍ د درواغو د نشرولو وسیله ده.** په موجوده وخت کې انټرنیټ او ټولنیزې رسنۍ د ناوړه استعمال له وجې ، په انټرنیټ او ټولنیزو رسنیو کې اکثره وخت درواغ نشروي. ټولنیزې رسنۍ درواغ په مختفلو برخو کې خپروي لکه سیاسي برخې، نظامي او جګړئیزې برخې، ټولنیزې برخې ، اقتصادي برخې، ترڅو د خلکو په زړونو کې شکست ، شک او شکوک او په ټولنه کې اضطراب واچوي.

مونږ ګورو چې د انټرنیټ او ټولنیزو رسنیو له لارې په نظامي ډګر کې ډیر زیات درواغ او پرو پاګند نشریږي او د انټرنیټ او ټولنیزو رسنیو له ادرسه ځینې قدرتونه د ځان په ګټه او د مقابل لورې په تاوان پریمانه درواغ نشریږي ، ترڅو د جانب مقابل لورې او د هغو د پلویانو په زړونو کې شکست ، خوف او ویره واچوي . همدا وجه ده چې په دې کار سره ټول خلک د ټولنیزو رسنیو په نشراتو بې باوره شوي دي او اوس څوک په هغه څه چې په ټولنیزو رسنیو کې نشریږي باور نه کوي.

همدارنګه په سیاسي برخو کې د ځینو سیاسي جریاناتو او سیاسي موقفونو په حصه کې خلک درواغجن تبلیغات او بې اساسه تحلیلونه نشروي چې هیڅ حقیقت نلري او کله خو د ځینو سیاسي جریاناتو په باره کې دومره درواغ خپاره شي چې خلکو ته ذهني تشویشونه را پیدا کړي.

په اقتصادي برخو کې په ټولنیزو رسنیو کې خلک د خپلو توکو په اړه مبالغه امیزه او درواغجن اعلانات او تبلیغات نشروي، ترڅو خپلو توکو ته بازار پیدا کړي ، خصوصاً ځینې خلک د کرنسیو(پیسو) د نرخو په اړه په ټولنیزو رسنیو کې درواغ نشروي ، ترڅو د خپلو کرنسیو نرخونه پورته کړي او په بازار کې اضطراب او ګډوډي رامنځ ته کړي.

انټرنیټ او په ټولنیزو رسنیو کې اکثره وخت خلک افواهات او شائعات خپروي چې هیڅ حقیقت نلري.

ځینې خلک په ټیک ټاک کې تل درواغ او ناسم تحلیلونه او ناوړه تبلیغات نشروي،ترڅو ددې لارې څخه پیسې پیدا کړي.

او زیات کسان داسې دي چې کوم خبر چې په انټرنیټ او ټولنیزو رسنیو کې ویني ډیر ژر یې نشروي او هغه تر نورو رسوي، بدون دحقیقت معلومولو څخه. حال داچې درواغ ویل او ددرواغو نشرول کبیره ګناه ده او ددرواغو نشرول د نشراتو په برخه کې بې اعتمادي رامنځ ته کوي؛ ځکه یوه کلمه چې د چا د خولې څخه ووځي او یا ولیکل شي ، نو یا به آبادونکي وي یا به تباه کوونکي وي، یا به په کې هدایت وي او یا به په کې ګمراهي وي.

د انټرنیټي او ټولنیزو رسنیو ددرواغو په اړه باید مسلمان په لاندې ډول تعامل وکړي.

په مسلمان باندې لازم دي چې د انټرنیټ له درواغو ځان وساتي .الله جل جلاله فرمایلي دي:(قُتِلَ الْخَرَّاصُونَ).الذاریات: (۱۰)

ترجمه: لعنت کړی شوی دی پر دروغ ویونکو.

امام بغوي ددې آیت په تفسیر کې لیکي:(لعن الكذابون)تفسير البغوي (۷/ ۳۷۲) لعنتیان دي درواغجن خلک.

په یو بل مبارک آیت کې راځي:( فَنَجْعَلْ لَعْنَةَ اللهِ عَلَى الْكَاذِبِينَ).آل عمران: (٦١)

ترجمه: نو وبه گرځوو مونږ (وبه وایو) لعنت د الله په دروغجنانو باندې.

په یو بل مبارک آیت کې الله جل جلاله فرمايي:( إِنَّ اللَّهَ لا يَهْدِي مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ كَذَّابٌ).غافر:(٢٨)

ترجمه: بیشکه الله سمه لاره نه ښايي هر هغه چاته چې هغه مصرف له حده تیریدونکی وي، ډیر دروغجن وي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:«وَإِيَّاكُمْ وَالْكَذِبَ فَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِى إِلَى الْفُجُورِ وَإِنَّ الْفُجُورَ يَهْدِى إِلَى النَّارِ وَمَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَكْذِبُ وَيَتَحَرَّى الْكَذِبَ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللَّهِ كَذَّابًا ». صحيح مسلم (٨/ ٢٩)

ژباړه: او ځان وساتئ له دروغو، بیشکه دروغ مائلوي (انسان) گناه ته او بیشکه گناه سبب دداخلیدو د اور (د جهنم ) دی او همیشه سړی دروغ وایي او کوښښ کوي ددروغ ویلو ؛ تر دې پورې چې ولیکل شي د الله تعالی سره دروغجن.

د صحيح البخاري په یو روایت کې راځي نبي علیه السلام فرمايي چې ما ولیده په خوب کې (کله چې ملائکو په خوب کې بوتللی ؤ) یو کس، چې د هغه د خولې وښکي ، پوزه او سترگې به تر شا پورې څیرل کیدلې او بیرته به راټولیدلې، نو راته وویل شو:(وَأَمَّا الرَّجُلُ الَّذِي أَتَيْتَ عَلَيْهِ، يُشَرْشَرُ شِدْقُهُ إِلَى، قَفَاهُ، وَمَنْخِرُهُ إِلَى قَفَاهُ ، وَعَيْنُهُ إِلَى قَفَاهُ، فَإِنَّهُ الرَّجُلُ يَغْدُو مِنْ بَيْتِهِ، فَيَكْذِبُ الكَذْبَةَ تَبْلُغُ الآفَاقَ » صحيح البخاري(٩ /٤)

ژباړه: او هغه سړی چې ته ور باندې تیر شوې چې څیرل کیده به د خولې وښکي د هغه تر څټ پورې او څیرل کیدله به پوزه د هغه تر څټ پورې او څیرل کیدلې به سترگه د هغه تر څټ پورې، نو دا هغه سړی ؤ، چې سهار به ووتلو د خپل کوره، نو دروغ به یې ویل داسې دروغ چې د ځمکې هرځای ته به رسیدل. دا حدیث په ټولنیزو رسنیو کې د دوراغو نشرولو په حق کې دقیق صدق کوي.

بل ددرواغو نشرول، ناوړه تبلیغات کول او ویره اچوونکي آوازې خپرول څه نوې خبره نه ده، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې به داکار منافقینو کولو. الله تعالی فرمايي:(لئِنْ لَمْ يَنْتَهِ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ وَالْمُرْجِفُونَ فِي الْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَا إِلَّا قَلِيلاً * مَلْعُونِينَ أَيْنَمَا ثُقِفُوا أُخِذُوا وَقُتِّلُوا تَقْتِيلاً ).الاحزاب:(٦٠، ٦١)

ترجمه: قسم دی که منع نه شول منافقان او هغه کسان چې په زړونو ددوی کې رنځ دی او بدې آوازې گډونکي په (ښار د) مدینې کې .نو خامخا به وگمارو مسلط به کړو مونږ خامخا تا پر دوی ، بیا به همسایه توب ونه کړي (دوی) د تا په دغه (مدینه کې) مگر لږ وخت.
رټلی شوي دي دوی هر چیرې چې وموندلی شي؛ وبه نیولی شي، او وبه وژلی شي په وژلو.

بناءً هر مسلمان ته په کار دي، چې په انټرنیټ او ټولنیزو رسنیو کې چې څه لیکي په مسئولیت سره یې ولیکي او الله تعالی حاضر او ناظر وگني او په ذهن کې داخبره حاضره کړي چې په ټولنیزو رسنیو کې چې څه لیکي کومې لوبې او ساعت تیری نه دی. بلکې ددې لیکلو او نشرولو په باره کې به ورسره حساب کیږي. الله تعالي فرمایلي دي:(فَوَيْلٌ لَّهُم مِّمَّا كَتَبَتْ أَيْدِيهِمْ وَوَيْلٌ لَّهُمْ مِّمَّا يَكْسِبُونَ) البقرة:( ٧٩)

ترجمه: نو عذاب او خرابي ده دوی ته له سببه د هغه شي چې لیکلي دي لاسونو ددوی او بیا هلاکت دی دوی ته له سببه د هغه کار چې کوي یې.

په یو بل مبارک آیت کې راځي:( وَيْلٌ لِكُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ).الجاثية:( ۷)ترجمه: هلاکت افسوس دی هر دروغ تړونکي ، گناهگار ته.

په انټرنیټ او ټولنیزو رسنیو د نشر شوو اعلاناتو ، خبرونو، بهتانونو ادعاوو ډیر ژر پرته له تحقیق څخه تصدیق کول او هغه د خپلې صفحې نشرول د اسلامي هدایاتو او لار ښوونو مخالف کار دی. الله جل جلاله فرمایلي دي:(إِذْ تَلَقَّوْنَهُ بِأَلْسِنَتِكُمْ وَتَقُولُونَ بِأَفْوَاهِكُم مَّا لَيْسَ لَكُم بِهِ عِلْمٌ وَتَحْسَبُونَهُ هَيِّنًا وَهُوَ عِندَ اللَّهِ عَظِيمٌ).النور:(۱۵)

ترجمه: هغه وخت چې تاسې به اړوله را اړوله دا (افک) په ژبو خپلو کې (چې یو له بله به مو پوښتنه کوله) ، او ویل به مو په خولو خپلو سره هغه خبره چې نه وو ستاسو په هغې باندې هیڅ علم، او ګڼله تاسې دغه خبره آسانه(چې هیڅ گناه په کې نشته) ، حال داچې دغه (خبره) په نزد دالله کې ډیر لویه ده.

په دې مبارک آیت کې درې ډوله گناهونو ته اشاره ده:

۱-د درواغو خبرونو قبلول او دهغې استقبالولو گناه.

۲-د درواغو خبرو پرته له تحقیق څخه خپرولو گناه.

۳-د درواغ خپرول وړه خبره ګڼلو گناه او د خپلو ساعت تیریو لپاره وسیله ګرځول، په داسې حال کې چې اسلامي ټولنې ته ورڅخه زیات ضرر متوجه دی.

په انټرنیټ او ټولنیزو رسنیو کې باید هر څه ونه لیکو او په انټرنیټ کې نشر شوي معلومات د خپل ادرس څخه نشر نکړو او نه باید په (لایک) کولو سره د درواغو خبرونه او ناوړه تبلیغات نشر کړو او په پردی گناه کې ځان شریک کړو. الله جل جلاله فرمایلي دي:( يَحْمِلُواْ أَوْزَارَهُمْ كَامِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمِنْ أَوْزَارِ الَّذِينَ يُضِلُّونَهُم بِغَيْرِ عِلْمٍ أَلاَ سَاء مَا يَزِرُونَ) [النحل:(۲۵)

ترجمه: (نو الله فرمايي) لپاره ددې چې په شا واخلي پېټي (له گناهونو) خپلو پوره په ورځ د قیامت کې او (همداسې واخلي) له پېټي (د گناهونو) د هغو (کسانو) چې گمراه کړي دي دوی هغوی لره په ناپوهۍ ، واورئ خبردار شئ چې بد دی هغه څیز چې باروي يې دوی.

په حدیث شریف کې راځي، نبي علیه السلام فرمایلي دي: (وَإِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ سَخَطِ اللَّهِ لاَ يُلْقِي لَهَا بَالاً يَهْوِي بِهَا فِي جَهَنَّمَ). صحیح البخاري ت (۱۶/ ۳۰۰)

ژباړه: او بیشکه بنده خامخا په یوه خبره تکلم وکړي چې هغه د الله تعالی د عذاب خبره وي په داسې حال کې چې د هغې په اړه هیڅ فکر نه کوي او د هغې ناوړه عواقب نه سنجوي ، نو داخل به شي د هغې خبرې په وجه په اور(د جهنم کې) .

د یو بل حدیث په یوه برخه کې راځي ، نبي علیه السلام فرمایلي دي:«وَمَنْ دَعَا إِلَى ضَلاَلَةٍ كَانَ عَلَيْهِ مِنَ الإِثْمِ مِثْلُ آثَامِ مَنْ تَبِعَهُ لاَ يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ آثَامِهِمْ شَيْئًا ». صحیح مسلم (۸/ ۶۲)

ژباړه: او چاچې بلنه وکړه گمراهۍ ته ، وي به دده په (غاړه) دومره گناه په اندازه د گناهونو د هغه چا چې دده پیروي کوي، نه به کموي دده گناه دهغوی له گناهونو څخه هیڅ شی.

بل داچې هر هغه څه چې په انټرنیټ کې او ټولنیزو رسنیو کې نشر شوي وي ، پر هغو باور ونکړو ، بلکې د هغو نشریاتو او ناوړه تبلیغاتو په اړه باید لومړی تحقیق وکړو . الله تعالی فرمایلي دي:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن جَاءكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَأٍ فَتَبَيَّنُوا أَن تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ).الحجرات:(۶)

ترجمه: ای هغو کسانو چې تاسو ایمان راوړی که چېرې راتګ وکړ تاسو لره فاسق او بد کار په یوه خبره سره نو تاسو ښه تحقیق په کې وکړئ له جهته د وېرې د دې چې وبه رسوئ تاسو یوه قوم لره ضرر او تاوان په ناپوهی سره نو پس وبه ګرځئ تاسو په هغه څه سره چې مو عمل کړی دی خفه او پښېمانه.

مونږ ته په کار دي چې پرته له تحقیق څخه په انټرنیټ او ټولنیزو رسنیو نشر شوي معلومات په پټو سترګو ونه منو او نه یې نشر او لایک کړو، ترڅو مونږ هم ددرواغجنو په صف کې شمار نشو.

په حدیث شریف کې راځي، نبي علیه السلام فرمایلي دي: « كَفَى بِالْمَرْءِ كَذِبًا أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ ». صحيح مسلم (١/ ٨)

ژباړه: کافي دي سړي ته دومره درواغ چې بیانوي هر هغه څه چې واوري.

انټرنیټ او ټولنیزې رسنۍ باید په صحیح ډول استعمال کړو او په دغو رسنیو کې داسې څه ونه لیکو او نه یې نشر کړو، چې بیا ور باندې پښیمانه یو.لکه چې یو شاعر وایي:

وما من كاتب إلا ستبقى كِتابتهُ وإن فنيت يدَاه * فلا تكتب بكفِّك غير شيء يَسرّك في القِيامة أن تَراه. العقد الفريد (ص: ٣٥٢)

ژباړه: او نشته هیڅ لیکونکی مګر داچې پاتي کیږي د هغه لیکنه ولو فاني شوي وي د هغه دواړه لاسونه.

نو مه لیکه په خپل لاس سره پرته د هغه څه نه چې خوشحالوي تالره په قیامت کې چې ته یې ووینې.

**٢-په انټرنیټ او ټولنیزو رسنیو کې غیر اخلاقي او د اسلام خلاف فیلمونه ، انځورونه او نشریات خپریږي.**

که چیرې انټرنیټ او ټولنیزې رسنۍ په صحیح توګه استعمال نشي ، نو مسلمان په ګناه کې اخته کیږي. زیات ځوانان دنامحرمو پیغلو سره د انټرنیټ له لارې وصل کیږي. اوکله چې ددوی ترمنځ علاقه او ملګرتیا رامنځ ته شي ، نو بیا دوی د انټرنیټ له لارې په ګنټو ګنټو یو له بل سره خبرې کوي او کله کله دا علاقه دومره ژوره شي چې ځوانان او پیغلې له کورونو څخه وتښتي او په ګناه کې اخته شي.

نن سبا د انټرنیټ د لارې روابطو زیات کورونه د غم په تغر کینولي دي او کورني اختلافات او د کورني نظم د لمنځه تللو کې زیات کردار د انټرنیټ او ټولنیزو رسنیو دی.

همداراز په انټرنیټ کې او ټولنیزو رسنیو کې لوڅ او ګمراه کوونکي فیلمونه، دځوانانو اوپیغلو لوڅ انځورونه او ډول ډول منکرات نشریږي ، چې په کتلو سره یې مسلمان ګناهکاریږي او دځوانانو او پیغلو د ګمراهۍ او بې حیایی سبب ګرځي.

په انټرنیټ کې د خنزیرانو او د شرابو دڅښلو اعلانات خپریږي ، چې په کتلو سره یې د ځوانانو زړونو کې د حرامو شیانو سره د نفرت کچه کمیږي او په زړونو کې یې ایمان مړکیږي.

همداراز په انټرنیټ او ټولنیزو رسنیو کې د کفري ثقافت او ټولنیز پرمختګ ته ځوانان او خلک دعوت کیږي او زمونږ د ځوانانو په زړونو کې د کفري ثقافت خوشبیني پیدا کیږي . حال داچې په کفري نړۍ کې چې کوم اجتماعي او ټولنیزې پستۍ او حقوق تلفۍ موجودي دي که چیرې هغه څوک په حقیقو معنو سره وڅیړي ، نو ورته به جوته شي چې واقعي اجتماعي کفیل عدالت او معتدل ثقافت اسلامي ثقافت دی.

دا هر څه چې ذکر شو دا د شیطان د قدمونو پیروي ده او الله تعالی د شیطان د پیروۍ څخه منع کړی ده. الله جل جلاله فرمایلي دي: (وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ * إِنَّمَا يَأْمُرُكُمْ بِالسُّوءِ وَالْفَحْشَاءِ).البقرة:( ۱۶۸، ۱۶۹)

ترجمه: او پیروي مه کوئ تاسې د (اثر) د قدمونو د شیطان!(شیطان پسې مه ځئ، او دده په وسوسه د هوی او هوس متابعت مه کوئ).

بیشکه چې شیطان تاسې لره دښمن دی ښکاره . بیشکه همدا خبره ده چې حکم کوي شیطان تاسې ته په بد او قبیح کار سره(چې عقلاً او نقلاً منفور وي). د لوڅو فیلمونو او لوڅو انځورونو او د هر ډول منکراتو او فواحشو کتل او خپرول هلاکوونکې گناه ده. الله جل جلاله فرمایلي دي:(إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ) النور:( ۱۹)

ترجمه: بیشکه هغه کسان چې خوښوي دغه خبره چې خوره شي فاحشه بدنامي په حق د هغو کسانو کې چې ایمان یې راوړی دی شته دغو کسانو ته عذاب دردناک په دنیا کې په حد د قذف او په بد نامۍ سره او په آخرت کې په اور د دوزخ سره او الله ښه عالم دی او تاسې نه پوهیږئ پر ضرر د هغې خورې کړې فاحشې.

علامه السّعدي رحمه الله وایي:کله چې دا وعید یواځې د فواحشو د خپریدلو په حق کې وي ، نو د نورو لویو گناهونو په اړه به څومره وعید وي؟!

لوڅو فیلمونو او انځورونو په اړه به الله تعالی د غوږونو، سترگو او زړونو څخه د قیامت په ورځ الله تعالی پوښتنه کوي. الله تعالی فرمایلي دي: (إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا).الإسراء :( ۳۶)

ترجمه: بیشکه غوږ او سترگه او زړه هر یو له دغو (درې واړو) څخه به پوښتنه کولای شي (په قیامت کې).

د اجنبیو ښځو انځورونو خصوصاً لوڅو انځورونو ته د کتلو څخه الله تعالی منع کړی ده. الله تعالی فرمایلي دي:(قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَى لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ * وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ ...).النور:( ۳۰، ۳۱)

ترجمه: ووایه (ای محمده!) مؤمنانو ته چې پټې کړي دوی سترگې خپلې (له نامحرمو څخه) او ښه ټینگ دې وساتي دوی فرجونه سترونه خپل . دغه (اغماض او حفظ) ډیر پاکیزه (او گټور) دی دوی ته ، بیشکه چې الله ښه خبردار دی په هغو کارونو چې کوي یې دوی.او ووایه(ای محمده !) ایماندارو ښځو ته چې پټې دې کړي سترگې خپلې (له نامحرمو څخه) ، او ښه ټینگ دې وساتي سترونه خپل .مونږ ته لازم دي چې خپل ماشومان او زنانه د انټرنیټ او ټولنیزو رسنیو له فتنو څخه لرې وساتو.

**۳- انټرنیټ د انسان وخت ضائع کوي او په انټرنیټ ځوانان روږدي کیږي.** د انټرنیټ او د ټولنیزو رسنیو د ناوړه استعمال په وجه، د مسلمان په ځانگړي توگه د ځوانانو وقت ضائع کیږي.

اکثره ماشومان او ځوانان په انټرنیټ روږدي کیږي او شپه او ورځ د انټرنیټ په کتلو او په انټرنیټ کې په لوبو او سیالیو کې تیروي او له لمانځه، درسونو او د ژوند د ضروري کارونو د انجامولو څخه غافله وي.

ځوانان او ماشومان په انټرنیټ کې دومره روږدې وي ، چې لمونځ ورڅخه قضاء کیږي ، مسجد ته نه ځي ، سبقونه او درسونه نه یادوي او نه کورنۍ وظیفې لیکي ، همدا وجه ده چې له کوم وخت څخه چې انټرنیټ ټولنې ته راغلی دی ، د هماغې ورځې څخه په ماشومانو او ځوانانو کې ددرس ویلو علاقه او جذبه کمزورې شوې ده او په عمومي ډول د شاگردانو او محصلینو مستوی ډیره کمزورې شوې ده.

ځینې ځوانان دومره اندازه په انټرنیټي لوبو کې مصروف وي، چې د مور او پلار خبرو او نصیحتونو ته غوږ نه ږدي او د مور او پلار د خبرو او نصیحتونو په مقابل کې عکس العمل ښکاره کوي، چې په دې کار سره هم د ماشومانو او ځوانانو وخت ضائع کیږي، هم د ماشومانو او ځوانانو اخلاق خرابیږي او هم ماشومانو او ځوانانو په روحي، رواني او جسمي ناوړه اثر پرې باسي.

د وخت ضائع کیدل خصوصا د ځوانانو لپاره چې زده کړې او پیاوړتیا ته اشد ضرورت لري ، نه جبرانیدونکی تاوان دی.

وقت لکه توره داسې دی، که چیرې ته وربانديې ځوک قطع نکړې ، نو تا به قطع کړي.

په یو حدیث شریف کې راځي ، نبي علیه السلام فرمايلي دي:«لَا تَزُولُ قَدَمُ ابْنِ آدَمَ يَوْمَ القِيَامَةِ مِنْ عِنْدِ رَبِّهِ حَتَّى يُسْأَلَ عَنْ خَمْسٍ، عَنْ عُمُرِهِ فِيمَ أَفْنَاهُ، وَعَنْ شَبَابِهِ فِيمَ أَبْلَاهُ، وَمَالِهِ مِنْ أَيْنَ اكْتَسَبَهُ وَفِيمَ أَنْفَقَهُ، وَمَاذَا عَمِلَ فِيمَا عَلِمَ» سنن الترمذي (٤/ ٦١٢)، رواه الدارمي بسند حسن(١/ ٤٥٣)

ژباړه: تر هغې به ولاړ وي قدم د بني آدم دقیامت په ورځ د الله تعالی په وړاندې، ترڅو پورې چې ورڅخه تپوس وشي د پنځو شیانو: د هغه دعمر په باره کې (به ورڅخه پوښتنه وشي) چې په څه کې دې مصرف کړ؟ او د هغه د ځوانی په باره کې (به ورڅخه پوښتنه وشي) چې په څه کې تیر کړ او د هغه د مال په باره کې به ( ورڅخه پوښتنه وشي) چې د کوم ځای څخه دې په لاس راوړی ؤ او په څه کې دې مصرف کړی ؤ؟ او څومره عمل دې کړی دی په هغه علم باندې تا درلودلو؟

انټرنیټ یوه وسیله ده او باید په صحیح توګه استعمال شي او دانټرنیټ او ټولنیزو رسنیو د ناوړه استعمال څخه باید ځانونه او اولادونه وساتو. د کور مشران باید کوښښ وکړي چې د کور ماشومان او ځوانان په انټرنیټي ګیمونو او لوبو باندې روږدي نشي او ددې کار مخه ونیسي.

**۴-په انټرنیټ او ټولنیزو رسنیو کې د پیسو بې ځایه مصرف او تبذیر**. د انټرنیټ او ټولنیزو رسنیو په ناوړه توګه استعمال سره پیسې په بې ځایه او عبثیاتو کې مصرفیږي او په ناروا کتنو کې د مال تبذیریږي.

انټرنیټ او د ټولنیزو رسنیو استعمال زیات لګښت ته ضرورت لري او د انټرنیټ استعمال د ثانیو او دقیقو په حساب پیسې مصرفوي او د پیسو د بې ځایه لګولو لپاره ژرنده ده. او په افغانستان کې چې انټرنیټ نسبت نورو ملکونو ته ګران دی، ځوانان او غیر ځوانان اړ دي چې د انټرنیټ لپاره زیاتې پیسې په انټرنیټ ولګوي.

الله تعالی په ناوړه کارونو کې د مال لګولو ته تبذیر ویلې دی او دایې هم فرمايلي دي چې مبذرین د شیطان ملګري دي او شیطان د الله تعالی نافرمانه دی ، نو د شـیطان ملګري هم د الله تعالی څخه نافرمانه دي. الله جل جلاله فرمايلي دي:( إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُواْ إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِرَبِّهِ كَفُورًا).الاسراء:(۲۷)

ترجمه: بیشکه چې اسراف کوونکي دي دوی ورونه د شیطانانو(یعنې په مثل د شیطانانو دي) او دی شیطان رب خپل ته ډیر ناشکره.

د تبذیر او اسراف په باره کې لغت پوهان وایي: اسراف د حد څخه تجاوز ته ویل کیږي. او په اصطلاح کې دحاجت څخه د زیات مال لګول دي په مناسبو مواردو کې. د متعلق په لحاظ سره په اسراف کې عموم پروت دی او په هرشي کې غیر مجاز زیات ته اسراف ویل کیږي.او تبذیر لګول د مال دي په ناحقه ناجائزو مواردو کې ، برابره خبره ده چې هغه مال زیات وي او که کم . الفروق اللغوية (ص: ١١٤)، المحرر الوجيز ـ(٣/ ٤٦٣)، الدر المنثور (٥/ ٢٧٤)

**۵-په انټر نیټ او ټولنیزو رسنیو کې د خلکو غیبت کیږي، خلکو ته کنځل او ورته ناوړه القاب استعمالیږي.**

د انټرنیټ او ټولنیزو رسنیو له لارې ځینې ادرسونه او خلک خپل اعلانات، تحلیلونه او خبرتیاوې خپروي، چې د کتونکو له خوا ورته په لمن لیک کې (کمنټونو کې) کنځل کیږي ، ځینې خلک د هغوی غیبت کوي، ځینې خلک ورته ناوړه القاب استعمالوي او ځینې خلک ، چې دا ډول کارونه د اسلامي آدابو مخالف کار دی او دا کار څوک باک نه ګڼي.

لکه څرنګه چې په شفاهي ډول د چا غیبت حرام دی، دغه شان په کتابتي او نشراتي ډول هم د خلکو غیبت کول حرام دي.

الله تعالی فرمایلي دي:(وَلا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضاً).الحجرات:(۱۲) ترجمه: او نه دې کوي غیبت ځینې ستاسې د ځینو نورو.

د غیبت دحرمت په باره کې الله تعالی فرمایي چې د مسلمان ورور غیب داسې دی لکه د مړ ورور د غوښو خوراک. الله تعالی فرمایلي دي: (أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتاً فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَحِيمٌ). الحجرات: (۱۲)

ترجمه: آیا خوښوي یو له تاسې څخه دا چې وخوري غوښې د ورور خپل حال دا چې مړ وي پس بد ګڼي تاسې هغه نو همدارنګه بد وګڼئ د مسلمان ورور غیبت او عیب لټول. ویریږئ تاسې له الله تعالی څخه بېشکه الله ښه توبه قبلوونکی ډېر رحم کوونکی دی.

په حدیث شریف کې راځي، نبي علیه السلام فرمایلي دي: (قِتَالُ الْمُسْلِمِ أَخَاهُ كُفْرٌ وَسِبَابُهُ فُسُوقٌ). سنن الترمذي (۵/ ۲۱)

ژباړه: د مسلمان جګړه د خپل مسلمان ورور سره کفر دی او هغه ته کنځل کول فسق دی.

**٦-انټرنیټ او ټولنیزې رسنۍ الحاد، کفر، اباحیت، شرک او نورو منحرفو افکارو او ناوړه اخلاقو د خپریدو وسائل دي.**

انټرنیټ او نورې ټولنیزې رسنۍ د هغو خلکو لپاره ډېر غوره او پراخه وسیله ده، چې مسیحیت ته، کفر او الحاد ته، او نورو منحرفو افکارو ته، لکه جمهوریت، فیوډالیزم، سوسالیزم، نیشنلیزم او قوم پرستۍ ته دعوت کوي.

مونږ وینو، چې په ټولنیزو رسنیو کې څوک د مسلمانانو د کامیابۍ لار جمهوریت بولي، څوک د الله تعالی د وجود په اړه مختلف قسم سوالونه مطرح کوي، څوک د مسیحیت د دین برترۍ ، فضیلت او تاریخي بریاوو په اړه مقالې نشروي.

په دې اساس ویلې شو ، چې انټرنټ د فکري جګړې مناسبه او مؤثره وسیله ده، چې پرته له کومې ویرې او مراقبت څخه هرڅوک په انټرنیټ او ټولنیزو رسنیو کې د خپل فکر، دین او بې دینۍ په اړه په کې آزادانه توګه نشریات خپروي ، چې د ناپوهه ځوانانو د ګمراهۍ او بې لارې کیدو سبب ګرځي. که چیرې انټرنیټ او ټولنیزې رسنۍ د ناوړه اهدافو لپاره استعمال شي ، نو دا یوه لویه فتنه ده او رسول الله صلی الله علیه وسلم د آخرې زمانې د فتنو په اړه فرمایلي دي: «لَتَتَّبِعُنَّ سَنَنَ مَنْ قَبْلَكُمْ شِبْرًا بِشِبْرٍ وَذِرَاعًا بِذِرَاعٍ حَتَّى لَوْ سَلَكُوا جُحْرَ ضَبٍّ لَسَلَكْتُمُوهُ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى قَالَ فَمَنْ؟ ». صحيح البخاري ت (۸/ ۵٦۲)

ژباړه: خامخا پیروي به کوی تاسې د طریقو د هغه چا چې ستاسې څخه مخکې ؤ، لویشت په لویشت او ګز په ګز، آن تردې که چیرې هغوی روان شي د خادمۍ د سوري (یعنې د خادمي په سوري کې داخل شي) ، نو تاسو به هم د هغوی لاره تعقیب کړی . مونږ عرض وکړ ای د الله رسوله! (دوی به) یهود او نصارا وي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نو نور به څوک وي؟

**اعوذ بالله من الفتن ما ظهر منها وما بطن . اللهم اغفر لنا وسددنا وقربنا منك يا رب العالمين.**

**اقول قولي هذا ، استغفر الله لي ولكم ولسائر المؤمنين والمجاهدين في سبيلك يا ارحم الراحمين.**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**